مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۳/۰۵/۲۲

# د جمهوریت د سقوط عوامل
## د جنګسالارانو ونده
(ځلورمه برخه)



(جنرال دوستم په شمال کې د جګړې پر مهال)

### په شمال کې جنرال عبدالرشید دوستم (۱)

ها خوا په شمال کې د (سي، آی، اې) یو بل اجیر شوی جنګسالار، اوزبېک توکمه جنرال دوستم چې د تېرو ځلوېښتو کلونو په اوږدو کې د افغانستان د مرکزي حکومتونو پر وړاندې یې بغاوتونه او سازشونه کړي دي، نوموړی، یو ساده، بې سواده او ناپوه (کله خام) کس دی. جنرال دوستم ټینګ دریځ نه لري، خپلو ژمنو ته ژمن نه دی، څوک چې د ده ستاینه وکړي د هغه لوری نیسي او په اسانۍ سره د یو ماشوم په شان استعمالیدلی شي. دوستم په تېرو ځلورو لسیزو کې د مرکزي حکومتونو، خپلو متحدینو او ملګرو پر وړاندې یاغي شوی دی، له پښتنو او تاجکو سره کله په دښمنۍ او کله په دوستۍ کې پاتې شوی دی، کله یې د یو لوري او کله د بل لوري پلوي کړې ده. په خپل سیاسي ژوند کې د هر چا ډول ته نخیدلی دی، له دې امله ده چې پر جنرال دوستم څوک باور نه کوي.
دوستم په جګړه کې زړه ور، بې رحمه او ظالم دی خو د ماتې پر مهال په تېښته کې له ټولو جنګسالارانو ګړندی او چابک دی.
دوستم د خبرو کولو استعداد نه لري، لکه څه ډول چې د یو قوم له مشر او یو جنرال سره ښایي، د ښو او بدو توپیر په ښه توګه نه شي کولی، سربېره پر دې چې دوستم د ښه درک او منطق څښتن نه دی، په دې پوهیده، که امریکایان له هېواده په چټکۍ سره ووځي نو د جنګسالارانو ځای به په افغانستان کې نه وي.
دوستم په دري ژبه ښه نه پوهیږي، ده چې په هر ځای کې خبرې کړې دي تر ډېره یې ګډې وډې او اپلتې ویلي دي چې د ده خبرې د خلکو د خندا سبب شوي دي، هغه په یوه غونډه کې د امریکا پوځ (سور پوځ) بللی دی په داسې حال کې چې د پخواني شوروي اتحاد پوځ سور پوځ نومیده، دوستم د اسلام په ابتدایي مکلفیتونو نه پوهیږي، له اسلامي مالوماتو تر دې پورې ناخبره دی چې په افغانستان کې وژل شویو امریکایانو ته یې په ببلابېلو وختونو کې څو ځله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شهيدان ويلي دي، د امريکايانو مړو ته د شهيدانو خطاب داسي يو کس کوي چي د مجاهدينو لومړي او دوه مياشتني ولسمشر صبغت الله مجددي، د ستر مجاهد (مجاهد کبر، خالد بن وليد) ستاينوم ورکړی ؤ.
د دوستم خندوونکي او احمقانه خبري چي په خو غونډو کي يي کړي دي، د هغو څو بېلګي د ده په هماغه کړي لهجه وړاندي کوو چي د نوموړي د شخصيت څرنګوالی په اسانی سره تري څرګنديږي:
«به رئيس جمهور اوباما سلام بگويم، به کشيدن نيروهای شان عجله نکنه، و باز دوباره طالبها جنگ داخلی را و همه کرد و ناکرد شما هزارها جوان تان را از دست دادين **شهيد دادين** ... .» (۲۰۱۳ز)
«... القاعده به رهبري اسامه بی بن لادن بيشتر از سه ونيم هزار نير و **امريکاييها را به شهادت رساند** ... .» (۲۰۱۵ز)

او د ۲۰۲۰ز، کال د جون په ۱۵مه نېټه يي د خپلي مارشالی رتبي په لمانځ غونډه کي داسي وفرمايل:«... به خاطر رئيس جمهور ترمپ به خاطر پيروز شدن خود که رای مردم امريکا را به دست بياره امروز **کوشون سرخ [قشون سرخ]** امريکا را و يک قوت جهانی است ايرا زير سوال نه بره، که امريکا به اين عجله از افغانستان بوراه، ما همه جمع کده گی شه [شان] شاخه جمع، جمع به سوزن جمع، جمع به شاخه پاش داده ميره، اونجا رفته پشيمان ميشه همی دوستای خود را از دست ميته، همی چيزيکه، خی پول شه [شان] بانين، چقدر اينجا خون ريختاند **شهيد دادن** همه گی هزر [هدر] ميره.» ([1])

جنرال دوستم د ۱۹۹۲ز، کال په لومړيو کي چي د ۵۳مي فرقه قوماندان ؤ، د ولسمشر ډاکټر نجيب الله پر وړاندي ياغي شو، دوستم د پرچميانو د ښرل شوي مشر ببرک کارمل په لمسون چي له پنځتنو سره يي کېنه او مخالفت درلود، له احمد شاه مسعود، د اسماعيليه فرقي مشر منصور نادري او په شمال کي له نورو ډلو ټپلو سره يو ځای شو.



(ډاکټر نجيب الله او له ښي خوا لومړی کس جنرالدوستم.)

جنرال دوستم لومړنی خيانت له هغه چا سره وکړ چي هغه يي د يو برمه کار کارګر څخه تر جنرالی رسولی ؤ. (په ۱۳۶۵ل. ل، کي دوستم ته بريد جنرالي د افغانستان د انقلابي شورا مشر ببرک کارمل ورکړي وه څو وروسته ډاکټر نجيب الله له هغه ملاتړ وکړ ځواکمن يي کړ او تر ستر جنرالی يي ورسولو.)
وروسته له هغي چي په کابل کي د ډاکټر نجيب الله حکومت د دوستم او نورو پرچمي جنرالانو په مرسته له منځه ولاړ نو په کابل کي د تظيمونو تر منځ جګړي پيل شوي، په دغو جګړو کي د دوستم ځواکونو د شمال د ايتلاف په پلوی د ګلبدين حکمتيار له ځواکونو سره جګړي پيل کړي، د حکمتيار ځواکونه يي له ښاره د جنوب پر لوري په شا کړل خو وروسته همدغه مجاهد کبير جنرال دوستم په ۱۹۹۴ز، کي د احمد شاه مسعود او برهان الدين رباني پر خلاف له خپل پخواني دښمن ګلبدين حکمتيار سره يو ځای شو، په داسي حال کي چي محمد آمين وقاد، د حکمتيار د اسلامي حزب مرستيال، د ۱۳۷۲ل. ل، کال د دلوې په ۳مه نېټه فتوا ورکړي وه چي له دوستم سره جګړه [جهاد] فرض دی.
جنرال دوستم په ۱۹۹۷ز، کال کي په شمال کي د اوو ولايتونو کنټرول درلود، ځلوېښت زره ازبيک او ترکمن وسله وال يي لرل، ټانکونه، جګړيزي جېټ الوتکي او چورلکي يي درلودلي، په کابل کي د رباني د ځواکونو په ړندغالو او ملکي استوګنځيو بمونه اورول، په دي جګړو کي په لس ګونو زره کابل ښاريان ووژل شول او په لکونو نور مهاجرت ته اړ شول.
دوستم په شمال کي خپلواکه پاچاهي جوړه کړي وه، خپلي پيسي يي چاپولي چي په دوستمي پيسو ياديدلي، دا مهال جنرال دوستم ازبکانو (دوستم پادشاه) باله خو د دوستم پاچاهي هغه مهال له منځه ولاړه چي په ۱۳۷۶ل. ل، کي طالبانو په شمال کي مزار شريف او نور ولايتونه لاندي کړل او دوستم اوزبکستان ته په يوه ګړندی تېښته ورسيد.

---

[1] ـ لاندي لېکونو کي د جنرال دوستم اپلتي اوريدلی او کتلی شئ.

https://www.youtube.com/watch?v=nIBDfSmv32Y&t=1s
https://www.youtube.com/watch?v=A_8k5o-9u4U


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

وروسته دوستم بیا افغانستان ته راستون شو او له طالبانو سره د جګړې په موخه له خپل دښمن احمد شاه مسعود سره يې د دويم ځل لپاره لاس يو کړ.
مجاهد کبير، جنرال دوستم په ۲۰۰۱ز، کې له امريکايانو سره د همکارۍ له امله (سي، آی، اي) ته ډېر نږدې کس بلل کېده. کله چې د ۲۰۰۱ز، کال د سپټمبر له يوولسمي وروسته، د هېواد په شمال کې جنرال دوستم ته په زرګونو طالبان پرته له جګړې، په دې هيله چې مرسته به ورسره وکړي تسليم شول، دوستم د نړيوالو قوانينو، انسانيت او اسلاميت پرخلاف، په زرګونو تسليم شوي طالبان په ډېرې بې رحمۍ سره ووژل.
جنرال دوستم د خپلو سرغړونو په لړۍ کې د حامد کرزي پر وړاندې هم ياغي شو، نوموړي جنګسالار د نورو جګړه مارانو په څېر، په جوزجان او فارياب ولايتونو کې د ولسمشر کرزي له خوا د واليانو يا نورو دولتي مامورينو ټاکل نه منل، کله چې کرزي د فارياب ولايت والي وټاکه نو جنرال دوستم يې پر وړاندې سخت غبرګون ښکاره کړ، دوستم نه يوازې د کرزي پر وړاندې ياغي شوی ؤ بلکې د امريکايانو پر وړاندې يې هم خپلې غوږې او غوزې پورته کړل، دغه جريان زلمي خليل زاد ليکلی دی وايي:«دوستم د فارياب ولايت پلازميني مېمنې د نيولو په موخه شپږ سوه جنګيالي استولي وو، د کرزي له لوري ټاکل شوی والي له ولايته تښتېدلی ؤ او د ترکمنستان پولې ته نږدې پټ ؤ، ما او برنو [امريکايي چارواکي] له کرزي سره وليدل او په فارياب کې د امنيت په موخه د هغه له لوري د (اوه سوو پنځوسو) عسکرو استولو د پرېکړې ملاتړ مو وکړ، دوستم ګواښ وکړ چې پر استول شوو ځواکونو به بريد وکړي، علي احمد جلالي او اشرف غني ويل چې ملي ځواکونه بايد دوستم ونيسي، دا يو زړور خو خطرناک ګام ؤ، موږ دوستم ته اجازه نه ورکوله چې پر افغان ځوکونو بريد وکړي، پر دې سربېره له افغان ځواکونو سره امريکايي سلاکاران هم وو، دوستم په نا مستقيم ډول پر امريکايي عسکرو بريد کاوه د افغان ځواکونو او دوستم جنګياليو تر منځ جګړې ښې پايلې نه درلودې ځکه دواړو د طالبانو پر ضد له يو بل سره همکاري کوله.»
خليل زاد يې په دوام ليکي:«له دوستم سره د ټيلېفون پر ليکه زما لومړی خبرې ګټورې نه وې، ما هڅه کوله چې په ډېر درناوي او نرمۍ ورسره وغږېږم، د امريکا پر سرو کرښو يې پوه کړم او له کړکېچ څخه ورته د وتلو ګټوره لار ورکړم خو زما خبرو هېڅ اغېز ونه کړ، دوستم ګواښ کاوه چې **امريکايي عسکر به په کفنو کې کور ته واستوم**، هغه سپک الفاظ کارول، ښايي هغه به ډېر شراب څښلي وو! هغه د دغه عادت له امله خورا مشهور ؤ. له دوستم سره دويم ځل ټيلېفوني خبرې هم خوندورې نه وې، ما دوستم ته اخطار ورکړ: په افغان ملي ځواکونو بريد داسې دی لکه پر امريکايي عسکرو بريد، که چېرې مو بريد وکړ نو په هغه پله به دې واړوم چې د بيا راګرځېدو امکان دې نه وي.

خليل زاد وايي چې د دوستم شور سوړ نه شو، هغه وويل:**حالات به مو تر عراقه بدتر کړم! حالات به مو تر ويتنامه بدتر کړم، که تاسې فکر کوئ چې [هغه حالات بد] وو، لږ صبر وکړئ، تاسې به وګورئ چې په افغانستان کې درسره څه کوم!**
خليل زاد وړاندې ځي وايي:«په ځرګند ډول موږ د خبرو له لارې دوستم ته خپل پيغام نه شو استولی، برنو او ما پر نورو لارو بحث وکړ، پر همدې شېبه ناوخته د (ډيګو ګراشيا) پوځي اډې دوو(بي. ۱) بم غورځوونکو الوتکو د دوستم د کور پر سر غوږ چوونکي آوازونه پورته کړل، يوې الوتکې د دوستم پر ودانۍ د تېرېدو پر مهال د آواز جالی ماته کړی وه، (دوستم په عام محضر کې خپله څېره پر ځای ساتلې وه، هغه نيويارک ټايمز ته ويلي وو: زما کسان وېرېدلي وو خو اجازه راکړئ ووايم، زه وېرېدونکی نه يم.) له دې وروسته په متحده ايالتونو کې د دوستم استازي همايون نادري ما ته په يوه پيغام کې وويل چې دوستم ډېر مقاومت وکړ او چمتو دی تسليم شي. راتلونکي ورځ دوستم د ټيلېفون پر ليکه غوسه برېښېده، هغه وويل: تاسې دلته کوم ډول جګړه کوئ؟ زما کوچنيان ستاسې د بم غورځوونکو الوتکو له امله خوب نه شي کولی.
خليل زاد ليکي: «د (بي. ۱) الوتکې او د هغو لوړ آواز دوستم غلی کړی ؤ، ما دوستم ته وويل: تاسې پوهېږئ چې ډېر نېکمرغه ياست! فرض کړئ چې له دومره سترو ظرفيتونو سره که پرونۍ الوتکې د امريکا پر ځای د بل کوم هېواد په لاس کې وای نو فکر کوئ چې له بمبار پرته به ستاسې پر کور همداسې تېرې شوې وای؟ آيا تاسې به بم غورځوونکي الوتکې له بم غورځولو پرته والوځوئ؟ دوستم غلی شو، ما ورته په ټيټ غږ وويل: ما درته ويلي وو چې موږ لاسبري يو تاسې تر اوسه ژوندي ياست او کور مو اوس هم روغ پاتې دی ځکه موږ دلته د خلکو په وژلو پسې نه يو راغلي، جنرال صېب په دې اړه فکر وکړئ! موږ غواړو چې سوکاله افغانستان جوړ کړو او غواړو له تاسې سره مرسته وکړو چې ببرته يې د کورنۍ جګړې په لور رهي نه کړئ، لکه څنګه چې تاسو په نويمو کلونو کې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

وکړل، تاسې د کوچنیو مسایلو پر سر جګړه کوله تاسې یوه تاریخي موکه له لاسه ورکړي، اوس لګیا یاست امریکایي ځواکونو ته د ګوابښونو له امله یې بیا په خطر کې اچوئ، ما تاسې ته اخطار درکړی ؤ چې دا کار مه کوئ.»
خلیل زاد دوام ورکوي وایي:«دوستم غلی ؤ لږ وروسته یې له ما وپوښتل: تاسې له ما څه غواړئ؟ ما ځواب ورکړ، پرېږده چې افغان ځواکونه ستاسې له سیمې تېر شي که چېرې ستاسې له لوري دزې وشوې یا هم د ترافیکي ستونزې په کچه کومه مسئله رامنځ ته شوه نو مسؤل به یې تاسو یاست او له ناوړه پایلو سره به مخ شئ خو که تاسې له دغه کاره ډډه وکړه نو په راتلونکو څو ورځو کې زه درځم چې درناوی مو وکړم، خلک به پوه کړم چې تاسې تر اوسه په شمال کې ستر مشر یاست.» (استازی...: ژباړن: لطف الله لطف. ۲۶۱- ۲۶۳- ۲۶۳مخونه)
دوستم د خپلو ملېشو بې وسلې کول نه منل، هغه شکایت درلود چې په شمال کې یې د طالبانو پر ضد د ډېر وخت لپاره جګړه وکړه خو تر اوسه یې په نوي حکومت کې دنده نه ده ترلاسه کړې، دوستم غوښتل چې دفاع وزیر یا د افغان ځواکونو لوی درستیز شي، پر دې سربېره هغه ویل که خپلې ملېشې له منځه یوسي نو تاجک جنګسالاران به له بدخشانه تر هراته ټول شمال تر ولکې لاندې راولي، په شمال کې عطا نور د دوستم ستر دښمن ؤ... د دوستم په پرتله بل هېڅ جنګسالار کرزی دومره نه دی پارولی، کرزي څو ځلې هوډ وکړ چې دوستم ونیسي. (هماغه کتاب.۲۶۰مخ)
له بل پلوه دوستم له هغه حالت سره مخ شو لکه چې وایي:**(هندو هم شو او ګوړې یې هم ونه خوړې)** دوستم د امریکایانو په امر ښه ډېر افغانان او مسلمانان ووژل، په شمال کې یې پښتانه اړ کړل چې خپلې سیمې او کورونه پرېږدي. دوستم امریکایانو ته هر ډول غوړه مالۍ وکړې، تر دې چې د دوی مړي یې شهیدان وبلل په پای کې یې ده ته د سړي په سترګه هم ونه کتل، هغه غوښتل امریکا ته سفر وکړي خو امریکایانو ویزه ورنه کړه، دوستم دوه ځله له امریکایانو د ویزې غوښتنه کړې وه، یو ځل په ۲۰۰۹ز، او بیا یې په ۲۰۱۶ز، کال کې. خو د امریکا بهرنیو چارو وزارت د هغه په پاسپورټ سره ټاپه ووهله.
جنرال دوستم د خپلې ناپوهۍ او سپک خوی له امله یو بل سپک کار دا وکړ چې په ۱۳۸۶ل. ل، کال د سلواغې میاشتې په ۱۴مه نېټه، په داسې حال کې چې نشه ؤ، نیمه شپه د خپلو پنځوسو وسله والو پر ملتیا، د تُرک توکمو شورا مشر اکبربای پر کور برید وکړ او د اکبربای یو زوی او د هغه یو تن ساتونکی یې ټپیان کړل، اکبربای او د کورنۍ غړي یې وهلي ټکولي وو، دوستم اکبربای خپل کور ته وړی خو د پولیسو له خوا خوشې شو او روغتون ته ورسول شو، د دوستم کور د پولیسو له خوا محاصره ؤ.
په کابل کې د ترکانو په منځګړیتوب د دوستم د کور کلابندي، په دې شرط پای ته ورسیده چې نوموړی به له افغانستان څخه بهر درومي، په دې هکله ولسمشر کرزي د بهرنیو چارو وزیر ترکیې ته ولېږه چې دوستم له افغانستانه وروغواړي، هغه وو چې دوستم لومړی شمال ته ولاړ، بیا د ناروغۍ په پلمه ترکیې ته ورسید.
له بده مرغه همدا جنرال دوستم چې حامد کرزي له افغانستان څخه شړلی ؤ، د ۲۰۰۹ز، کال د ولسمشرۍ د ټاکنو پر مهال یې له ترکیې راوغوښت. په دې اړه په کابل کې د یوناما مشر کای ایډه وایي:«له ټاکنو څو ورځې وړاندې یو بل بد خبر راورسید، هغه دا چې بدنام جنګسالار عبدالرشید دوستم له خپل احتیاري تبعید څخه چې ترکیه کې ؤ بېرته راستینږي چې په کابل کې د خپل وحشت او بربریت له کبله شهرت لري، کرزي غوښتل چې په شمال کې د اوزبکانو رایه د دوستم په واسطه راخپله کړي نو له همدې کبله یې د دوستم ملاتړ ته اړتیا درلوده، په اګسټ کې ما او ایکنبیري د خپلو هغو بې شماره ناستو پر مهال له کرزي وغوښتل چې دوستم راونه غواړي خو ژر څرګنده شوه چې ولسمشر خپل ذهن جوړ کړی او هېڅوک نه شي کولی مخه یې ونیسي، کرزي ټینګار کاوه چې هغه د افغانستان تبعه دی، هر وخت چې وغواړي کولی شي هېواد ته راستون شي ... زما ذهن په کابل کې هغو لومړیو اونیو ته ولاړ چې کرزي غوښتل دوستم ونیسي.»
«فهیم بېرته ډګر ته راغی، دوستم له تبعید راستون شو او اسماعیل خان وار له مخه د اوبو او برېښنا وزیر ؤ، دغه درې جنګسالاران هغه کسانه وو چې امریکا د یوولسم سپټمبر له برید وروسته په افغانستان کې خپله ملا وتړله، دوی په تېریو او وحشت کې په نورو کې اول وو.» (په افغانستان کې د واک پر سر شخړه. ژباړن: سمیع الله ایلم. ۲۰۰مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



نېټه: ۱۴۰۲/۳/۱ل. ل

**نور بیا**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ